

معلوم کړئ چې څنګه کیدی شي وکولی شئ د خپل 2 کلن ماشوم لپاره د ماشوم پاملرنې تمویل شوی ځای ته لاسرسی پیدا کړئ

- په اونۍ کې تر 15 ساعتونو
- په کال کې 38 اونۍ

## تاسو کولی شئ د خپل 2 کلن ماشوم لپاره د ماشوم پاملرنې تمویل شوی ځای ته لاسرسی ومومئ که چېرې تاسو د لاندې ګټو یا کریډیټونه څخه یو یا ډېر ترلاسه کوئ:

- اینکم ساپورټ (د عاید ملاتړ)
- اینکم بیسد جاب سیکرز الوینس (د عاید پر بنسټ د کار غوښتونکو تخصیص)
- اینکم ریلیټډ ایمپولایمنټ اینډ ساپورټ الوینس( د عاید اړوند د کارموندنې او ملاتړ مالي مرسته)
- د 1999 کال د مهاجرت او پناه غوښتنې قانون د شپږمې برخې لاندې ملاتړ
- د دولتي تقاعد کریډیټ تضمین شوی عنصر
- د ماشوم ټکس کریډیټ یا د کاري ټکس کریډیټ، که ستاسو د کورنۍ کلنی عاید د £16,190 پوند څخه لږ وي
- یونیورسل کریډیټ که ستاسو کلنی خالص عاید د £15,400 څخه لږ وي یا
- ماشوم د سیمه ییز چارواک لخوا ساتل کیږي
- ماشوم د ځانګړي سرپرستي یا د فرزندي نیولو یا د ماشوم لپاره د تنظیم حکم له لارې د ځايي چارواکو د پاملرنې ځای پریښنی وي
- ماشوم اوسمهال ځانګړي تعلیمي اړتیاوی لري، یا د تعلیم، روغتیا او پاملرنې پلان لري
- ماشوم د معلولیت ژوندانه مالي مرسته (ډیسبیلیټي الوینس) لپاره وړ دی

## د سپتمبر 2022 څخه نور تمدید شوي معیارونه:

- که ستاسو د کډوالۍ وضعیت وايي چې تاسو 'دولتي مالي مرستي نشئ ترلاسه کولای'، تاسو کیدی شي وکولی شئ د خپل 2 کلن ماشوم لپاره ماشوم پاملرنې تمویل شوی ځای ته لاسرسی پیدا کړئ، که چېرې تاسو:
  - په انګلستان (اینګلنډ) کې اوسیږئ او ستاسو د کورنۍ کلنی عاید له دې څخه ډېر نه وي:
    - £26,500 د هغو کورنیو لپاره چې لندن څخه بهر ژوند کوي او یو ماشوم لري
    - £30,600 د هغو کورنیو لپاره چې لندن څخه بهر ژوند کوي او دوه یا د ډېر ماشومان لري
  - له £16,000 څخه ډېر په سپما یا پانګونې کې ونلري

ستاسو د ماشوم پاملرنې ځای به معمولاً په کال کې 38 اونۍ او په اونۍ کې تر 15 ساعتونو پورې وي.

دا کولی شي تاسو ته وخت درکړي چې مرسته او مشوره ترلاسه کړئ، او مرسته به وکړي چې تاسو د خپل ماشوم د پرمختګ په اړه معلومات ترلاسه کړئ او ستاسو لپاره د لاسرسي وړ زده کړې او روزنې فرصتونه وپلټئ.

## څه وخت به زما ماشوم شرایط پوره کړي؟

ماشومان معمولاً د دوی له دویمې کلیزې څخه وروسته د ښوونځي د دورې له پیل څخه یو ځای ترلاسه کوي.

| هغه ماشومان چې د دې نېټو په منځ کې زیږیدلي: | تمویل شوي ځایونه پیل کیږي له: |
|---|---|
| د 1 جنورۍ څخه تر 31 مارچ پورې | د اوړي دوره (له 1 اپریل څخه) |
| د ۱ اپریل څخه تر 31 اګست پورې | د مني دوره (له 1 سپتمبر څخه) |
| د ۱ سپتمبر څخه تر 31 دسمبر پورې | د پسرلي دوره (له 1 جنوري څخه) |





## مکرراً پوښتل شوي پوښتنې

### زما د ځای پیسې به څنګه تادیه شي؟

پیسې به په مستقیم ډول د ماشوم پاملرنې هغې ادارې ته ورکړل شي چې ستاسو ماشوم پکې ګډون کوي. دا ادارې ټولې د واریکشر کاونټي کونسل او آفسټډ (Ofsted) سره راجستر دي.

### زه څنګه غوښتنلیک وکړم؟

تاسو کولی شئ آنلاین په www.warwickshire.gov.uk/childcarecosts کې درخواست وکړئ یا دا QR کوډ سکن کړئ:

د مرستې یا نورو معلوماتو لپاره، مهرباني وکړئ د  د لومړیو کلونو د استحقاقونو ټیم (Early Years Entitlements Team) سره اړیکه ونیسئ:
ټیلیفون شمیره: 01926742218 یا 01926742233
بریښنالیک: 2help@warwickshire.gov.uk

یا FIS (د کورنیو لپاره د معلوماتو خدمت)
ټیلیفون شمیره: 01926742274
برېښنالیک:fis@warwickshire.gov.uk

### کله چې غوښتنلیک تسلیم شي څه پیښیږي؟

د حکومت د وړتیا چک کولو سیستم په کارولو سره ستاسو د غوښتنلیک وړتیا چک کیږي. که تاسو له شرایطو سره برابر یاست، یو تایید لیک د بریښنالیک یا پوستي خدمت له لارې درلیږل کیږي چې ستاسو د لومړیو کلونو (EY) واؤچر کوډ په اړه توضیحات پکښې شامل دي، ترڅو تمویل شوي ځای تایید کړي. همدارنګه تاسو ته به ستاسو په سیمه کې د هغو اداراتو لیست هم واستول شي چې د 2 کلن ماشومانو لپاره د ماشوم پاملرنې تمویل شوي ځایونه لري. تاسو به باید خپل غوره شوی ادارې ته خپل تایید لیک وښایاست او دوی ته خپل EY واؤچر کوډ ورکړئ. که ستاسو وړتیا نشي تایید کیدلی، له تاسو څخه به د ملاتړي شواهدو غوښتنه وشي.

### ستاسو د معلومات حقونه

د دې لپاره چې وګورئ موږ ستاسو شخصي معلومات څنګه کاروو او ستاسو د معلوماتو حقونه څه دي، مهرباني وکړئ دلته www.warwickshire.gov.uk/privacy زموږ د پیرودونکو د محرمیت خبرتیا ولولئ چې پدې کې د اړیکو توضیحات هم شامل دي که تاسو د خپلو معلوماتو د حقونو په اړه شکایت لرئ. د عمومي پوښتنو لپاره په 01926410410 شمېره د واریکشر کاونټي کونسل د پیرودونکو خدماتو سره اړیکه ونیسئ.